انجنیر سیدعبدالقادر

۲۴ مارچ ۲۰۱۵

## تنظیمی پولیس دشهیدی فرخندی دقاتلینو پرځنګ ولا ړ دی

لومړی داسی فکر کیدی چه پولیس دپیښی ځای ته ناوخته رسیدلی دی، دکابل دامنیې قومندان اودکورنیو چارو دوزارت ویندوی هم دا سی وویل : متأسفانه پولیس دپیښی ځای ته هغه وخت ورسیدل چه دا بی ګناه میرمن یی په شهادت رسولی وه ۰نوکتنکو اولیکونکو داسی فکر کا وه ، چه پولیسو خپله دنده نه ده اجراکړی ، او باید مسؤولین یی مجازات سی ۰اوس خبره بل ډول سول ، پولیس دپیښی په ځا ی کی داسی معلو میږی چه دشهیدی فرخندی ته نیژدی ولاړدی ، ددی ښخه دولتی چاروا کی پښیمانه کیدلای هم نه سی ، ځکه ډیرعکسونه دځوانانو له خوا اخیستل سویدی ، چه په لاندی عکس کی هم جهادی پولیس دورایه معلو میږی ۰ سؤال دادی چه دپولیسو په شتون کی ښځه کیدلا یسی، چه داو با شا نو له خوادا په شهادت رسیږی ، بیا داسلامی اوبشری ترحم ښخه لیری تر موتر لاندی کیږی ، اوبیا سوځل کیږی ، په داسی حال کی چه دسوځولو تروررستی لحظی پوری جهادی پولیس دپیښی ملګرتیا کوی اوسیل بینی یی کوی ۰نودداسی پیښنو اصلی مسؤولین کیدلای سی دقانون پنجو ته وسپا رل سی؟ په داسی رژیمو کی هیڅ وخت نه ۰په دي پیښه کی به هم دپغمان د پیښی په څیر دنامقدس جهادی تنظیمونوپوری اړوند کسان پټ وساتل سی ، اوداصلی ګنا ه کا رو شمیربه په نورو بی ګنا ه کسانو پوره کړی ۰ځکه دپغمان دپیښی د(۸ ) اصلی مجرمینو دجملی ښخه دوه د سیاف او ځلور دبلخ د والی تر مر دارو ړیرو لا ندی پټ سول ، اودپیښی دځپل سوی کورنۍ دقوله، رسنیو اصلی مجرمین هم ددولت په څیر پټ وساتل ۰او لاس پوښی کرزی په پیښه کی دسیاف دجنایت کار تنظیم معلوم الحاله لاس پټ وساتی۰ سؤال دادی ، چه ددی نا مقد س جهادی تنظیی جنګ سالا رانو ، قاتیلینواوغلو ښخه به داولس ښځګه دنجات لاره پیدا کو ی ؟

دا ولس خوهره ورځ دوطن په ګوټ ګوټ کی دبهرنیو اوکورنیو جنایت کارو جهادی ډلو له خوا دمختلیفوزوررونو سره( وژنی ،جنسی تیریو،چور اوچپاول )سره لاس اوګریوان دی ،اواوسنی دولت هم دکرزی ددولت په څیر دخپلی نامشروع بقا له پاره ولس دیوی اوبلی لاری غولوی ،اوهره ورځ دژراوښی راتلونکی وعدی ورکوی ۰په دا سی حال کی چه هره ورځ دوطن په ګوټ ګوټ کی دملت پرشتمنیو باندی تیکنوکراتی اوجهادی جنایت کا ران خپل لاسونه را ګر ځوی، اقتصادی اوفزیکی قوت ډیره وی۰دلیکنی په ورستی برخه کی باید ووایو ،چه په داسی لاسپو څی رژیم کی هرو خت پولیس، څارنوالی ، قضاء اوعدلی طب ددولت دنورو اورګانونو په څیر دمافیایی ډ لواونوروجنایت کارو په خدمت کی وی ،ځکه نوواقیعتونه پټ ساتی،اودولس هره غوښتنه حاکمیت تر خپلو ناپا کوپښو لاندی کوی۰

زما له نظره دوطن ددې لویی ستونځی دحل یوازنی لا ره دافغان سیا سی ملی گوندونو اواجتماعی ټولنو په سازمانی او یا دعمل په وحدت پوری اړیکی پیدا کوی ، او دوی باید لومړی خپل عینی اهداف دخلکو ترغوږرو پوری ورسوی،او دخلگو اعتما دجلب اوولس په ځان په سی کړی ۰ددی کار دپا ره اړینه ده چه لومړی بایدد استعماری اشغال څخه دوطن دخلاصون له پاره دسیاسی حل یومیکانیزم دملگروملتونو دلاری ونړیوالو ته وړاندی کړی ، ځودملت اعتماد دځان کړی۰دسیاسی حل دمیکا نیزم په هکله به زه خپل نظر په بله لیکنه کی ولوستنکوته وړاندی کړم ۰




۲۳-۳-۲۰۱۵